شیرمحمدامیني ستانکزی
۲۰۱۶/۰۴/۲۲

# کابل په ویر کې

اخ! کابله زه دی کړم غمجن خو ته یې له هرڅه ودردولې او ستا په ښار کې سرې وینې روانې او واویلاوې خپرې دي، ماته هغه کورنۍ رایادیږي، چې د ورځې او شپې لپاره یې خوراکي توکې د بازارڅخه رانیول، خو افسوس چې کورونوته یې د ماشومانو پلرونه او وروونه په وینو سرو ورننوتل. اخ نو کوم زړونه به وي، چې داسې حالاتو ته ونه ژاړي او یا ورته اوښکې توې نکړي.



کابل یوځل بیا ظالمانو په وینو سورکړ؛ له دری سوه ډیري کورنۍ د ویرپه ټغرکینول، آسمان د دغو ویرجنو کورنیو لپاره ژړیږي او لپه لپه اوښکې تویوي. اې ظالمه!!! خونه دی ورانه شه! ستا له لاسه مو زړه په چاودیدو راغی، تا خو زمونږ هیوادوال سخت وځپل، خو ستا څخه د دې ورځې پوښتنه کیږي او مخ توری به د سخت درد ناکه اور خوراک شې، ځکه تا د هغو کورنیو خوشحالي ته د پای ټکی کیښود، د هغوی ژوند او هرڅه مو ورځنې واخیست، نوبیا الله تعالی ته څه ځواب وایئ. بس کړه، نور ظلمونه مه کوه، توبه و باسه، ښننه وغواړه، نو که داسې ظلمونوته دوام ورکړې انشاءالله داسې وخت به ژر راورسیږي، چې ستا ټوله کورنۍ به داسې په وینو ولړل شي، لکه چې تا پرون دا کار په نورو ترسره کړل. بس کړه نور ظلمونه مه کوه، خدای دې نور د ځمکې له مخې ورک اونابود کړه. دا ظلمونه به ترکله؛ ستا له لاسه اې ظالمه! نن ټول افغانان ځوریږي، زمونږ وروڼه، خویندې او میندې ترڅوبه د تورو خاورو ښکار ګرزي. اې ظالمه! لږ فکر وکړه، د خلکو خوښي اوخوشحالي ولې په غم بدلوې. خو ته ظالم او د خدای څخه نه ویریدونکې د خپلو هیوادوالو آرمانونه د خاورې سره یو کړل، لورینه دې پرې ونشوه، چې دوی څومره له ځانګړو هیلو سره له کوره بهر وتللي ؤ، خو هغه هیلې اوس به د تورو خاورو په غیږ کې ساتل کیږي. د دې درد ناکې ورځې د شهیدانو واړه بچیانو ته به څوک جان او قربان ووایي، د تنکي او پاکو ماشومانو نازونه؛ چې وویل به یې پلارجانه ما درسره له کوره بهر بیوزه، ماته داشی او هغه شی راوړه، خو خبر نه چې اوس پلاریې په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کفن کې پټ او شیبي شمیرل کیږي، چې نور د ماشومانو د سرتاج په تورو خاورو کې پټیږي او معصومانه نازونه ته نور د پای ټکی کېښودل شو.

بس ده نور موږ ستا ظلمونو ډیر وځورولوو، ډیری افغانان یې وردول، نور یې مه ځوروئ، ای ظالمانو!!! د خدای په لحاظ د پردیو خلکو په خولې مه غولیږئ. ځان ته پام وکړئ، چې تاسو څه کارونه کوئ. آیا دغه عمل د اسلام خلاف کارندی، چې تاسو یې تر سره کوئ؟. نن کابل کې د غم او ویرنارې آوریدل کیږي او هرې لورې ته به جنازې وړل کیږي. نن د کابل سیند ژاړي، د هوامرغان، الوتکي او د ځنګل وحشي ژوي چپه چپتیا غوره کړی دی او د کابل په پیښي غمجن دي او ستا په څیر ظالمان په یادې پیښي خوښي او خوشحالي ځرګندوي. افسوس سل افسوس پرتا ای ظالمه! ترکله د خلکو خوشحالي له خاوروسره یو کوي. بس د الله له لوی نه وویریږه، چې دغه بندګان چا پیداکړي دي نور پریږده ظلمونوته دی پای ورکړه، بس دی نور موږ یې نشو زغملای تاخو د افغان خونه ورانه کړه، تاخو د هیواد هستی نابوده کړه او تر دي چې د افغان خاوره دی هم بدنامه کړه. خدای دي تا په شان ظالمان ورک او نابود لري، چې موږافغانان ستا له تیرې نه خلاصی پیداکړو، د ژوند په خوند پوه شوو، بس نور بس دی، خدای پاک موتل خوار او ذلیل لره، چې خوار ملت مو په وینو سور کړ او خدای مو تل داسي غم درپیښ کړي، چې نور په دې ملت زړونه وخوږوئ او له ظلمه لاس واخلئ انشاءالله، چې د ظالم خونه ورانه ده او ژر تر ژه به یې په ځان ووینې؛ بس خدای تعالی د هغو کورنیو ثواب وکړي، چې خپل د کورغړی یې په پرونی نا ځوانمردانه برید کې شهیدان او یا ټپیان شوي دي، خدای (ج) دې د شهیدانو شهادت قبول اوټپیانوته دبیړنی روغتیا په نصیب کې کړي او د کورنی پاتي کسانو ته د زړه صبر ورکړي.

آمین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ